مطبوعاتي اعلامیه
31/08/2025

# د ولسي دایمي محکمي په ملاتړ د افغانستان د ښځو لپاره د ولسي محکمې جوړښت

د افغانســتان د مدني ټولنې د څلورو بنسټونو ایتلاف ویاړي چې د ولسي دایمي محکمي  تر چتر لاندې د افغانستان د ښځو لپاره د ولسي محکمې جوړښت اعلان کړي. دا یو ښېساری نوښت دی چې په افغانستان کې د جنســيتي ځورونې پر وړاندې د معافیت کلتور ته غبرګون ښــيي او د طالبانو د ظلم او ځپنې د عادي کېدو مخنیوی کوي.  په داســې حال کې چې افغانی ښــځې او نجونې د طالبانو له خوا له یو منظم ظلم او جبر سره مخامخ دي، او سره له دې چې د نړۍ یو شمېر دولتونه ورو ورو د طالبانو د جنایتونو د عادي کولو پر لور روان دي، افغان مدني ټولنې په دې اړوند عملي ګام پورته کړی دی. د افغانو ښــځو لپاره د ولســي محکمې په پیلولو د افغانستان مدني ټولنې او د ښځو د حقونو ډلو یو داسې حرکت او مسیر رامنځته کړی، چې طالبان د خپلو جنایتونو له امله مســئول ګرځوي د عدالت غوښتنه کوي او افغان ښځو او نجونو ته دا زمینه برابروي چې غږ یې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې واورېدل شي.

له هغه راهیســې چې طالبانو د ۲۰۲۱ کال د اګســت په میاشت کې بیا واک ونیو افغان ښځې او نجونې د خپلو بنســټي بشري حقونو په برخه کې له لوی شاتګ ســره مخ شوې دي. ښځې او نجونې له منځنیو او لوړو زده کړو راګرځول شوې دي، نږدې په ټولو کاري برخو کې له کار کولو څخه محرومې شوې، او له ټولنیز ژوند څخه محوه شــوې دي، او دا مهال د جنســیت پر بنسټ د ظلم تر ټولو سختې او بې سارې بڼې سره مخامخ دي. ښــځې او نجونې په خپل هېواد کې خاموشــه کړل شــوې دي، دوی قصداً حاشیې ته تمبول کيږي او اوس دا خطر شــته چې د نړۍ له یاده هم ووځي. له بلې خوا، له طالبانو ســره د واکمن رژیم په توګه د ډیپلوماتیکو اړیکو عادي کولو چارې روانې دي چې وروســتۍ بیلګه یی د روســیي فدراسیون له خوا د طالبانو د پرته له توجیه  په رسیمیت پيژندل و.

څلور تنه افغان څارنوالان ، چې هر یو یې په نړیوال جزایي عدالت او د جنســیت پر بنسټ د تاوتریخوالي اړوند تخصص لري، دا مهال د محکمې پر وړاندې د تورن لیک پر چمتو کولو بوخت دي، د اسنادو راټولولو د یوې ځانګړې ډلې له خوا د دوی ملاتړ کيږي، چې دغه ډله د مستندو شواهدو د راټولولو مسؤلیت پر غاړه لري، او همدا راز په نړیواله کچه یو نوموتی تخنیکي ټیم هم ورسره مرسته کوي. د قضیو اورېدل به د نړیوالو قاضیانو لخوا ترسره شي. د قاضیانو د پلاوي نومونه په راتلونکو اونیو کې اعلانیږي.

د ولســـي دايمي محکمه به د روان ۲۰۲۵ کال د اکتوبر له اتمې څخه تر لسمې نېټې د هسپانيې په مادريد ښار کې د مادريد د حقوق پوهانو د اتحاديې په همکارۍ خپلې عمومي استماعيه ناستې وکړي، چې په ټوله نړۍ کې به خپرې شي. دا ناستې  افغان ښځو او نجونو ته دا فرصت برابروي چې خپل شهود شريک کړي. همداراز، په دې ناســتو کې به د مدني ټولنې، حقوقپوهانو، اود بشر حقونو د نړيوالو پوهانو شهادتونه هم واورېدل شي. تمه کيږي چې د قاضيانو پلاوی به خپل پرېکړه ليک د ۲۰۲۵ کال د ډسمبر په لومړۍ نيمايي کې صادر کړي.

که څه هم د افغانستان د مدني ټولنې ائتلاف د افغانستان لپاره د حساب ورکونې د ټولو ميکانيزمونو ملاتړ کوي، او په ځانګړې توګه د نړيوالې جزايي محکمې (ICC) له خوا د ۲۰۲۵ کال په جولای مياشت کې د هغو حکمونو هرکلی کوي، چې د طالبانو د لوړپوړو مشـــرانو د نيولو لپاره د بشريت ضد جرم، چې د جنسيت پر بنسټ د ځورونې اړوند دی، صادر شوي دي. خو سره له دې دا ايتلاف ټينګار کوي چې دا ګام په يواځې ځان بسنه نه کوي. د خلکو دايمي محکمې په افغانستان کې د عدالت او حساب‌ورکونې لپاره پر پراخ، دوامدار او بيړني اقدام تاکيد کړی، او د انتقالي عدالت لپاره د يو هراړخيز، قرباني محوره او ټول ګډونه لېدلوري رامنځته کېدو غوښتنه کوي.

له يادوڅارنوالانو  څخه يو يې وايي:
**"د بشريت ضد جنايتونو ترسره کېدو پر مهال د دولتونو چوپتيا پخپله يو جنايت دی. د افغانستان د ښځو لپاره د خلکو محکمه به نړۍ دې ته اړ باسي چې د افغان ښځو او نجونو غږ واوري."**

دې خپلواکې نړيوالې محکمې د جنســـيت پر بنسټ د ځورونې شواهد د نړيوالو قوانينو له مخې د يو جرم په توګه ارزولي دي، او دا ښــيي چې د افغانو ښځو او نجونو سخته ځپنه، هم د اسلامي ارزښتونو او هم  د نړيوالو تعهداتو ښــکاره نقض دی. دې قرباني محوره او د خلکو په مشرۍ بهير د ښځو غږونه پياوړي کړي دي. دا بهير به حياتي شــواهد راټول، او له هغو کســـانو څخه به حساب وغواړي چې د جنسيت پر بنسټ د ځورونې مسؤل دي.

رخســـار (مســـتعار نوم)، يوه افغانه فعاله وايي: **"موږ له نړيوالې ټولنې يوازې خواخوږي نه غواړو. موږ اقدام غواړو، او اوس د اقدام وخت دی."**

**اړيکې:**

د تيليفون شميره: +32496989296
برېښنا ليک: afg-pt@rawadari.org

**شالید:**

د ولسي دايمي محکمېپه اړه: دا محکمه يوه نړيواله نظرپوښتنه او قضاوت دی چې د بشري حقونو د سختو سرغړونو، د بشريت ضد جنايتونو، جنګي جنايتونو، او د نسل وژنې قضيو ته رسيدګي کوي. دا محکمه په روم کې موقعيت لري او د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه يې قضيې اوربدلې دي. دا محکمه په نړيواله کچه د پېژندل شويو پوهانو لخوا  رامنځته شوې. د ولسي دايمي محکمهد ايټاليا په روم ښار کې ده، او په ټوله نړۍ کې يې له ۵۰ څخه زياتې قضيې اوربدلې دي. دې محکمې په افغانستان کې د قضيو اوربدلو دوه غونډې ترسره کړې دي چې د ۱۹۷۹ کال د شوروي پوځي يرغل پر موضوع وې، يوه غونډه يې په ۱۹۸۱ کې په استکهلم ،او بله په ۱۹۸۲ کې په پاريس کې ترسره شوې وه.

د افغانســـتان د مدني ټولنې ائتلاف له څلورو بنســـټونو جوړ دی: رواداري، د افغانســـتان د بشر حقونو او ډيموکراسۍ بنسټ، (AHRDO)، د څېړنو او پراختيا بنسټ  (DROPS)، او د بشر حقونو د مدافعانو بنسټ ـ+ (HRD+). ســربېره پردې، د ۲۰۲۴ کال له ډسمبر مياشتې راهيسې دغه څلور بنسټونو له قربانيانو، ژغورل شــويو کســـانو، اسلامي عالمانو، د بشـــري حقونو نړيوالو وکيلانو، مدني ټولنو، او د نړيوال جزايي عدالت پوهانو او متخصصينو سره د افغانستان دننه او بهر سلا مشورې ترسره کړې.

**مهمې نېټې:**
ډسمبر ۲۰۲۴: څلورو بنسټونو د خلکو دايمي محکمې ته د افغانستان د ښځو اړوند د ولسي محکمېجوړولو غوښتنليک وړاندې کړ؛
جنوري ۲۰۲۵: د خلکو دايمي محکمې غوښتنليک ومانه؛
جولای ۲۰۲۵: د افغانستان د ښځو لپاره د خلکو محکمه اعلان شوه؛
د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر له  ۸مې تر ۱۰مې:  د هسپانيې په مادريد کې استماعيه ناستې ترسره شي؛
ډسمبر ۲۰۲۵: به وروستۍ پرېکړه صادره شي؛

د خلکو د محکمو اړوند  نور معلومات: د رواداري بنسټ "د عدالت لارې" سند وګورئ